عبدارحمن فرقاني

نیټه 01/12/2009

# دافغانستان په شمال کې د لوديځ نوی مورچل دريځونه او بدلونونه

کوم مهال چی د افغانستان د سياسي سرنوشت په هکله په بون کی پريکړه کيدله , د لوديځ استخباراتي شبکوته يا په بل عبارت د سياسي تصميم نيولو موسسی او کور ته په لوديځ کی ميشتو مستقلو سياسي شخصيتونو اوپه افغانستان کی ختيځ ( روسيه , هند , ايران ) پلوه سياسي ډلو لاره موندلي وه , په لوديځ کی ميشت سياسي شخصيتونه په افغانستان کی له ولسي حمايت څخه برخمن نه و, او د سياسي ګوندونو په څير د ولس په متوو سياسي ډګر ته نه و راوتلي , خو د خپل سياسي تصور په بنا باندي چی د لوديځ سياسي تصور ته ورته و يی د لوديځ حمايت تر لاسه کړي و, اودلوديځ سياسي موسسی ته يی لاره پيدا کړی وه , د افغانستان ټولنه يی د ديموکراسي اړمنه بلله , اوپه افغانستان کی د يوه ديموکرات سياسي نظام غوښتونکي و .

خو ختيځ پلوه سياسي ډلي څه نا څه له اولسي حمايت څخه برخمني وي د افغانستان سياسي ډګر ته د روسانو په متوو راوتلي وی , او د لوديځ استخباراتي شبکو ته يی ځکه لاره وموندله چی دوي هم ځانونه د سختدريځو ډلو دښمنان بلل , او ځانونه يی د لوديځ په څير د سختدريځه ډلو تر ګواښ لاندي ګڼل , هغه ډلي چی لوديځ او دوي نړيوال امنيت ته لوي ګواښ ګڼلي .

د بون د کنفرانس له لاري لوديځ وتوانيد چی د افغانستان لپاره پرته له هغو سياسي ډلو چی د افغانستان په جنوب کی وي يوه سياسي اداره وټاکی , روس پلوه سياسي ډلو سربيره پدي چی د افغانستان په سياسي اداره کی ونډه تر لاسه کړه يوه بله خورا د اهميت وړ لاسته راوړنه يی هم تر لاسه کړله هغه دا چی د لوديځ سياسي موسسه يی پدي قانع کړله چی د نړيوال امنيت دژغورلو لپاره د افغانستان جنوبي سيمه چی ګواکي د سختدريځه ډلو نظامي اډي پکی ځاي پرځاي د ي تر نظامي يرغل لاندي وساتي , د بون د کنفرانس په لړ کی روس پلوه سياسي ډلو دا ذهنيت چی ګواکي د افغانستان په جنوب کی د سختدريځه ډلو نظامي ځپل يوه اساسي اړتيا ده دلوديځ سياسي موسسی ته وړاندي کړ , دا ذهنيت لوديځ ته دمنلو وړ و ځکه هغه مهال امريکا هم له يوي داسي پيښي سره مخ شوي وه چی په لاره اچونکي يی د افغانستان په جنوب کی ميشت و, نو د لوديځ د سياسي تصميم نيولو کور پدي باور شو چی د سختدريځه ډلو د ځپلو لپاره د افغانستان په جنوب کی يو پياوړي نظامي مورچل جوړ کړي ترڅو د سختدريځه ډلو تحرکات وڅاري, او هغه تندروه سياسي ډلي تر نظامي بريد لاندي راولي او د نظامي تصفيی له لاری خپل هدف تر لاسه کړي , دبون د کنفرانس په ترڅ کی په افغانستان باندي د شمال له لوري نظامي بريد پيل شو او په لنډه موده کی د لوديځ ځواکونو د افغانستان په جنوب کی خپل مورچلونه جوړ کړل , د لوديځ نظامي خوزښت په جنوب کی اقتصادي , ټولنيزه , اوتعلمي پرمختيا شنډه کړله او په سيمه کی د مقاومت پياوړتيا ورځ تر بلي محسوسيدله ان تر دي چی دمقاومت ډلود لوديځ د ځواکونو د ناوړه کړنلاري په پايله کی چی له خلکو سره يی په لاره اچولي وه څه نا څه د ولس تعاطف هم تر لاسه کړ .

د روسانو د پلان مطابق لوديځ د افغانستان په ګرداب کی را ښکيل شو , د لوديځ په راتګ کی د افغانستان جنوب ته روسانو دوی استراتيژيکی لاسته راوړني کتلي 1- لوديځ يی په هغه سيمه کی له هغه مقاومت سره لاس ګريوان کړ چی روسانو د لوديځ په مرسته ورڅخه ماته خوړلي وه , روسان پوهيدل چی لوديځ د افغانستان په سياسي خړوب کی له هغه مقاومت سره مخ کيږي له کوم مقاومت سره چی دوي مخ شوي و, روسانود افغانستان د خلکو احساسات د يرغلګرو قوتونو په وړاندي پيژندلي و نو ځکه يی د دوي د راتګ هرکلي وکړ, د روسانو له توقع سره سم د لوديځ ځواکونه د اتو کالو په اوږدو کی د افغانستان په جنوب کی له ريښتيني مقاومت سره مخ شول , او د روسانو دام ته په افغانستان کی دير نيږدی شول .

2- د لوديځ په وړاندي يی خپل پلويان د افغانستان سياسي ډګر ته وروزل , او په پوره قوت يی خپل پلويان په سياسي ميدان کی راولاړ کړل , چی د تير شويو انتخاباتوپه ترڅ کی يی لوديځ ته ګواښ د پام وړ و, او د راتلونکو پارلماني ټاکنو له پاره يی هم ژوره مبارزه پيل کړي ده , د ياد وړ ده چی د ختيځ د سياسي مثلث (روسيه – هند – ايران ) پلويان په افغانستان کی د مصلحت په اساس له روسانو سره ملګري شوي نه هم د فکر په اساس , دا اټکل هم کيږي چی روسان غواړي په جنوب کی هغه پخواني کمونستان يو ځل بيا سره راټول کړي او ديو سياسي بديل په څير ورڅخه ګټه پورته کړي .



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

د دی کړکیچن حالت په ترڅ کی په نا څاپه ډول د هغه اور لمن چی په جنوب کی لیګیدلي و د افغانستان شمال ته وغزول شوه , د افغانستان شمال ته په جنوب کی د بل شوي اور لمن غزول او یا په بل عبارت د افغانستان له جنوبي سیمی څخه د افغانستان شمال ته د جګړی غزول د افغانستان په هکله د لوډیځ او ختیځ تر منځ په سیاسي لوبه کی دیر څه بدل کړل , د افغانستان نړیواله سیاسي معادله یی له نویو حسابونو او دریځونو سره مخ کړه , د یو شمیر سیاستپوهانو په اند لوډیځ د روسانو د فشار او ګواښ په وړاندي په افغانستان کی خپل نوي او داهمیت څخه ډك مورچل پیدا کړي , کیدي شي د افغانستان په هکله او په نړیواله سیاسي راکړه ورکړه کی لوي بدلون را منځ ته کړي , د لوډیځ د نوي مورچل اهمیت د روسانو په ځرګندونو کی هم په روښانه محسوسولي شوو .

پدي کی شك نشته چی په افغانستان کی سیاسي اداره او لوډیځ پدي باور و چی د افغانستان په جنوب کی د سختدریځه ډلو ځپل د نړیوال امنیت لپاره خورا اړمن کار دي ,خو په امریکا کی د هغی سیاسي اداری بدلون چی په جګړیز تګلاره یی تینګار کاوه دا تصور اوذهنیت هم تر بیا څیړنه لاندي راوست , د بوش د اداری جګړیزي تګلاري د امریکا سیاسي څیره په نړیواله کچه دیره زیانمنه کړله , او دا نظامي خوزښت په اسلامي نړۍ کی یوله هغو مهمو لاملونو څخه و چی د امریکا د سیاسي اداری د بدلون سبب شو , د اوباما په مشرۍ په امریکا کی نوی اداره پدي ټینګار کوي چی ګواکي د افغانستان په جنوب کی باید د دولت له مخالفینو سره د خبرو اترو دروازه پرانیستل شي , او د خبرو له لاري هغه کړکیچن حالت ته د پاي ټکی کیښودل شي چی د لوډیځ ځواکونه ورسره مخ دي , که چیري په واقعي ډول لوډیځ د افغانستان په جنوب کی له مخالفینو سره خبرو ته حاضر شي او د افغانستان حکومت ته واك ورکړي چی دا خبري په مخ بوځي نو هرو مرو به لوډیځ له هغه ماتي څخه ځان وژغوري کوم چی روسان یی هیله من دي , او دولت به له هغه ګواښ څخه په امان کی شي کوم چی د روس پلوه سیاسي قوتونو له اړخه ورته متوجه دي , او لوډیځ به وتوانیږي چی له افغانستان څخه په مسالمت امیزه ډول دي وتلو لاره پیدا کړي .

که چیري د افغانستان په سیاسي ډګر کی د لوډیځ راپرزیدل هم د ختیځ په ځیر نږدي شوي وي , نو آیا افغانان د لوډیځ د پرزیدو وروسته کوم پیاوړي سیاسي بدیل لري ؟ که بیا هم د هغی ترخی تجربی ښکار کیږي څرنګه چی د روسانو له وتلو وروسته ورسره مخ شول , او د خپل سیاسي زعامت لپاره یی کومه پلان شوي تګلاره نه درلوده نو له هغه کړکیچن حالت سره مخ شول چی تر اوسه ملت ورنه ځوریږي .

په افغانستان کی د لوډیځ او ختیځ اخ اوډب ته د پاي ټکی ایښودلو لپاره یو پیاوړی افغاني الاصل پاڅون ته سخته اړتیا ده , هغه پاڅون چی د ختیځ او لوډیځ د لاسوهنی په وړاندي د یو نه نړیدونکی دیوال په ځیر ودریږي , هغه پاڅون ته اړتیا ده چی د افغانستان سیاسي ډګر ته ټول پردي اوږدی شوي لاسونه غوڅ کړي , هغه پاڅون چی د افغانستان د توریالي ملت خپلواکي تضمین کړي , هغه سیاسي پاڅون چی د افغانستان سیاسي قوتونه دي ته اړ کړي چی د لوډیځ او ختیځ له مصلحتونو څخه لاس په سر شي , خپل افغاني غرور او عزت وساتي , او افغانستان له یرغل څخه وژغوري , د افغانستان له ویاړه ډك او سرلوړي تاریخ ته احترام وکړي , هغه پاڅون چی له هر څه وړاندي د اسلامي ارزښتونو په چوکاټ کی یوحکومت را منځ ته کړي .


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ